SHARIAT

شریعت

اوونیزه

په اوونی کې دوه ځله خپریږي

دافغانستان د اسلامي امارت مرکزی نشراتي ارگان

پنځم کال ۷٤ گڼه پرله پسې(۳٦۱) سه شنبه د۱٤۲۱ه ق کال د رجب المرجب (۱۳)

د۱۳۷۹ه ش کال د تلې دمیاشتې(۱۹)د۲۰۰۰ میلادي کال داکتوبر (۱۰)

الهي فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسي !، همدا (عدل) ډیر نژدې دی تقوا(پرهیزگاری) ته.

(سورة المائدة)

توجه!

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بي حرمتي بگذارید.

محترم معین وزارت خارجه در ملاقات با معاون سازمان کنفرانس کشور های اسلامی و بعضی از سفرای کشور های جهان در نیویارک:

ا.ا.ا همیشه خواهان روابط حسنه ونیک با تمام کشور هاي جهان میباشد

محترم ملا عبدالرحمن زاهد معین وزارت خارجه در مقر سازمان ملل متحد در نیویارک با معاون سازمان کنفرانس کشور هاي اسلامي و بعضي از سفراي کشور هاي جهان طور جداگانه ملاقات نمود.

محترم معین وزارت خارجه طي ملاقاتهاي جداگانه که در مقر سازمان ملل متحد در نیویارک با محترم معاون سازمان کنفرانس کشور هاي اسلامي و سفراي کشور هاي چین، فرانسه، تایلند، ترکمنستان و جمهوري اسلامي پاکستان اخیراً داشت پالیسي صلحجویانه ا.ا.ا را در قبال مسایل ملي و منطقوي تشریح و توضیح نموده گفت : امارت اسلامي با پشتیباني بیدریغ ملت مجاهد افغانستان در بیش از نودو پنج فیصد از خاک کشور صلح و امنیت را تامین نموده و باید جوامع بین المللي با درک حقانیت امارت اسلامي افغانستان و با در نظر داشت حقوق حقه مردم امارت اسلامي را برسمیت بشناسند.

ا.ا.ا همیشه خواهان روابط حسنه ونیک با تمام کشور هاي جهان بوده و هیچگاه در امور داخلي کشور ها مداخله ننموده و خواهان روابط بالمثل میباشد.

٤مخ

له دیرشو کلو وروسته :

د ننگرهار د بریښنا بند ترمیم شو

په دغه ترمیم سره د بریښنا په تولید کې یو نیم زر کیلوواټه زیاتوالی راغلی دی

د ننگرهار په کانال کې د ۸۰۰ هکتاره ځمکې د خړوبولو زمینه برابره شویده

ننگرهار - باختر :

د ننگرهار ولایت د بریښنا د بند دروازې له دیرو کلونو وروسته ترمیم او ورمه ورځ د یولړ مراسمو په ترځ کې پرانستل شوې.

د ننگرهار ولایت د بریښنا بند چې د اوبو د تیریدو پنځه دروازې لري د تیرو دیرشو کلونو په ترځ کې یې د ترمیم او تخنیکي عوارضو د له منځه وړلو لپاره کوم اقدام نه و شوی او په هره ثانیه کې تري شل متره مکعبه اوبه ضایع کیدلې یوې اړوندی سرچینې په دې برخه کې د باختر اطلاعاتي آژانس ته وویل د چارو د مسولینو د پاملرنې له امله او د ملګرو ملتو د سازمان د مخدره موادو د کنټرول

٤ مخ

محترم رئیس ستره محکمه ا.ا.ا:

از دیوان هاي محاکم ولایت ننگرهار بازدید بعمل آورد

ننگرهار - باختر :

قاضي القضات و رئیس ستره محکمه امارت اسلامي افغانستان دیروز از دیوان هاي محاکم ولایت ننگرهار باز دید نموده و امور آنرا بطور دقیق بررسي نمود.

محترم مولوي نور محمد ثاقب قاضي القضات و رئیس ستره محکمه در حالیکه یکتعداد دیگر از مسوولین ستره محکمه با وي همراه بودند از دیوان هاي مختلف ریاست محاکم و محکمه شهري ولایت ننگرهار بازدید و بررسي دقیق بعمل اورده که در هر بخش آن از طرف محترم مولوي محمد فاضل «عتیق» رئیس محاکم آن ولایت توضیحات داده میشد.

ص ٤

د شهزاده سراي د سوداگرو او دوکاندارانو په مشورتي غونډه کې وویل شول :

پانګوال باید د هیواد له داخل امنیت نه گټه واخلي

روسان مخالفینو ته په ملیاردونو افغانی چاپوي

درنو لوستونکو! تیره ورځ د شهزاده سراي سوداگرو او دوکاندارانو د تومورې سراي د ستونزو او یولړ نورو اقتصادي مسألو د څیړلو لپاره یوه مشورتي غونډه جوړه کړې وه، دې غونډې ته زموږ خبریال ورغلی او د غه رپوټ یې برابر کړی

٤ مخ

تن په ټول هیواد کې :

د فلج د واکسین کمپاین پیل کیږي

شریعت : ټاکل شوی ده نن د سه شنبې په ورځ په ټول هیواد کې د فلج د ناروغۍ پر خلاف یو دري ورځنۍ پراخ ملي کمپاین پیل شي.

د کنټرولۍ معافیت مسولینو هیله څرگنده کړې چې بنایي ټول امارتي چارواکي.

٤ مخ

د ټولنیزو چارو په ریاست کې د مامورینو روزنیز کورس پرانیستل شو

د مامورینو لپاره د کار د ځارنې او لارښوونې روزنیز کورس پرون د کار او ټولنیزو چارو په لوی ریاست کې پرانستل شو.

په دغه روزنیز کورس کې د هغې اداری پنځوس تنه مامورین شامل دي چې د هغه د پرانستلو په مراسمو کې د کار او ټولنیزو چارو لوی رئیس محترم عبدالغیاث قانع ددغه کورس د جوړیدو د

٤ مخ

د «یوه نړۍ او یوه پښتې شبکه» تر شعار لاندې :

د نړیوال پست ورځ ولمانځل شوه

د «یوه نړۍ او یوه پښتې شبکه» تر شعار لاندې د نړیوال پست ورځ پرون د مخابراتو وزارت په تالار کې د یوې غونډې په ترځ کې ولمانځل شوه.

ص ٤

په تاجکستان کې د آذان لپاره د لوډسپیکر په استعمال بندیز ولگول شو

بي بي سي - باختر :

د دوشنبې د ښاروالۍ د پریکړې له مخې له دوو اوونیو را پدیخوا د تاجکستان د پایتخت په جوماتونو کې د آذان غږ په لوډسپیکر کې نه خپریږي. پداسې حال کې چې د دغه کار د انگیزې په باب د دوشنبې د اړوندو ادارو لخوا کومه خبرتیا نده ورکړ شوې.

د دوشنبې د ښاریو ورځپانه

٤ مخ

پوهنځی انجنیري پوهنتون کندهار افتتاح گردید

کندهار - باختر :

پوهنځي انجنیري پوهنتون ولایت کندهار دیروز طي مراسمي افتتاح گردید.

در این مراسم محترم مولوي نجیب الله صاحب زاده رئیس پوهنتون کندهار طي سخنراني، در رابطه به بلند رفتن سطح

ص ٤

بنگله دیش د صهیونیست حکومت وحشي کړنې وغندلې

د بنگله دیش هیواد د فلسطینیانو په وړاندې د صهیونیست حکومت وحشي کړنې وغندلې.

د بنگله دیش د رسمي خبري آژانس د وینا له مخې د دغه هیواد د بهرنیو چارو وزارت یوه رسمي مقام ویلي دي دا ډیره د خواشینی خبره ده چې د منځنی ختیځ د سولې خبري حساس پړاو ته رسیدلې خو اسرائیلو د فلسطینیانو په وړاندې

٤ مخ

په کابل کې :

یوه اندازه جعلي درمل ونیول شول

کابل - باختر :

اوه ویشت قلمه بې کیفیته او تقلبي درمل د کابل ښار په یوه درملتون کې

٤ مخ

اجتماع سران کشور هاي عرب لیگ در قاهره برگذار میگردد

قاهره : قرار است جلسه فوق العاده سران کشور هاي عربي در ماه روان در قاهره پایتخت کشور مصر برگذار گردد.

بگزارش رادیو صداي امریکا کشور مصر اعلام داشته وضع بحراني شرق میانه و اوضاع در بیت المقدس ساحل غربي رود اردن و نوار غزه که براي عربها داراي اهمیت خاص است در صدر اجنداي این جلسه قرار خواهد داشت.

طبق یك خبر دیگر عمرو موسی وزیر خارجه مصر در سوریه با بشارالاسد رهبر آنکشور و معمر القذافي رهبر لیبیا

ص ٤

د مخدره موادو پر ضد د امارتي عالي کمیسیون د خپرونو رئیس محترم شاه محمود منگل له «شریعت» سره په مرکه کې :

د افغانستان اسلامي امارت له نشه یي توکو سره عقیدوي اختلاف لري

د ا.ا.ا د مقام «۱۹» مه گڼه فرمان د بشري ټولنې د ژغورنې او خیر ښیگڼې لپاره صادر شوی

اوس به وگورو چې نړیواله ټولنه په دې اړوند د ا.ا.ا سره څه ډول غبرگون څرگندوي

شریعت : قدرمنو لوستونکو! لکه څرنگه چې تاسې هم خبر یاست د عالیقدر امیر المومنین له خوا د یوه ځانگړي فرمان په ترځ کې د ا.ا.ا تر واکمنۍ او تسلط لاندې ټولو سیمو کې د مخدره موادو او په ځانگړې ډول د کوکنارو په کرکیله باندې بشپړ او قطعي بندیز ولگول شوی زموږ خبریال په ملي او بین

۲ مخ

رئیس جمهور الجزایر وارد پیکنگ شد

عبدالعزیز بوتفلیقه رئیس جمهور الجزایر بنا به دعوت همتاي چیني اش وارد پیکنگ شده است. بگزارش رادیو بي بي سي رئیس جمهور الجزایردر جریان اقامت خود در چین در کنفرانس توسعه همکاري چین و افریقا که در پیکنگ برگذار میشود شرکت خواهد نمود.

این کنفرانس مدت سه روز ادامه خواهد داشت. رئیس جمهور الجزایر پس از انجام مذاکرات با رهبران چین عازم کشور ویتنام میگردد.

ص ٤

خبرنگار اعزامي «شریعت» از ولایت هرات مینگارد :

شفاخانه حوزوي ولایت هرات با داشتن دکتوران ورزیده در خدمت مریضان قرار دارد

برخلاف آنکه در رسانه هاي گروهي غرب، علیه حقوق زنان و یا محرومیت آنان از خدمات صحي، عنوان میشود نه تنها خواهران ما در بخش صحت از تحصیل و تعلیم و اشتغال برشته هاي مسلکي شان محروم نمیباشند بلکه همه روزه جمعي کثیري از خواهران مریض از ولسوالي ها و ولایات همجوار همچون، غور فراه و بادغیس به شفاخانه حوزوي ولایت هرات مراجعه نموده و همسان و عادلانه از عرضه خدمات صحي و طبي بهره مند میگردند.

به ارتباط نحوه و وسعت خدمات صحي در بخش اناثیه سرویس داخله شفاخانه حوزوي ولایت باستاني هرات، خبرنگار ما در شهر هرات با محترم دوکتور عبدالرحمن فایض مسوول این سرویس مصاحبه انجام داده که توجه تانرا به خوانش آن معطوف میداریم.

موصوف در پاسخ به سوال خبرنگار ماچنین گفت : سرویس داخله زنانه در حدود شصت بستر داشته که امراض خواهران مراجعه کننده امراض داخلي، انتاني، همراجیك فور و غیره بوده که بستري شده، تحت تداوي قرار میگیرند که مجموعه کمك هاي سرویس داخله توسط شش نفر

ص ٤

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

د قدس خوا کې یهودي لښکرې څه کړي؟

د تیرې یوې اونۍ راهیسې په بیت المقدس کې خونړۍ نا آرامی رواني دي، په دې هکله نړۍ والو خبرې سرچینو تر اوسه د څه د پاسه اتیا تنو فلسطینیانو د شهادت خبرونه خپاره کړي که څه هم دا نا آرامي په لوی لاس خپله یهودیانو راوپارولی خو اوس یې پړه پر یاسر عرفات وراچوي او دا دې د وروستي ځل لپاره یې اخطار ورکړی چې که فلسطینیان وضع آرامه نه کړي د

۲ مخ

شریعت

دتاسیس کال : ١٣٧٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر : عبدالرحیم «ثاقب»
مرستیال : غلام محمد فاروق
دبوې گڼې بیه : په هیواد کې (١٠٠٠) افغانۍ په پاکستان کې (٣) کلداری
پست بکس : (٤٧١) کابل - افغانستان تیلفون : ٢١٣٨١ توزیع و شکایات : ٦٢٨٥٩
جاري حساب : ٤٠٣٨٥/٧ د افغانستان بانك مرکز
چاپ : امارتي مطبعه

د سرمقالې پاتې برخه

اسرائیلو د سخت پوځي عکس العمل سره به مخامخ شي په دې کې شک نشته چې یهودو د نیمې پېړۍ راهیسې په فلسطیني ولس ډېرې نادودې وکړې، په لس گونو زره خلک یې په شهادت ورسول، په لکونو یې له خپل کور کلي وشړل د هغوی ټوله شتمني یې غصب کړه او په دې ټولو بدماشیو کې یې امریکا او نورو کفري هیوادونو تل ننگه کوله خو دا چې د پنځوس کاله زور زیاتي نه وروسته بیا هم یهود دا ډول گواښونه کوي ټولې اسلامي نړۍ او خصوصاً عربي ټولنې ته ډېر د شرم او خجالت ځای دی له بده مرغه یاسر عرفات او دده نور عرب انډیوالان لا تر اوسه هم ددې کشالې په سیاسي حل نه دي ستړي شوي سره له دې چې په تېرو پنځوسو کلو کې یې یو توت گټه نه ده لاس ته راوړې خو بیا هم په خپل دریغ ټینگار کوي.

د تېر یو کال راهیسې د امریکې په هلو ځلو د اسرائیلو او ښاغلي عرفات تر منځ د سولې د خبرو اصلي موخه هم په ځرگند ډول د عرفات نه د بیت المقدس د وروستي سیاسي سند اخیستل و چې د راتلونکو زمانو لپاره یې د یوې پخې قبالې په توگه د اسرائیلو لاس ته ورکړي وای خو بیا هم د ځینو نورو عربو په څېر عرفات دې کار ته حاضر نه شو او اوس چې یهود له هغې دسیسې ناهیلي شول نو د دغو خبرو اترو د بهیر گډوډول یې پیل کړل په دې لړ کې د فلسطین د مجاهدینو ځینې ډلې لکه حماس او نور تل دا ټینگار کوي چې ددې ستونزې حل یوازې او یوازې په وسله وال جهاد کې دی، اوبس..

خو له بده مرغه د اسلامي هیوادونو او عربي ټولنې زیاتره مشران ددې دریغ ننگه نه کوي او له همدې کبله دا دی د سیاسي او سوله ایزو خبرو اترو له ډېرې اوږدې لړۍ نه هم د فلسطیني ولس د تباهۍ او غلامۍ نه پرته بل هیڅ راونه وتل. نو په دې اساس ښکاره ده چې د عرفات دیني او ملي فریضه دا ده چې دغه مجاهدین له ځانه بېل او پردي نه کړي، بلکې له هغوی سره په لاس یو کولو د غاصبو یهودو پر خلاف وسله وال جهاد ته ملا وتړي تر څو د دنیا او آخرت سر لوړي یې په برخه او نور دغه کړېدلي ولس د یهودو له ښکېلا که وژغورل شي له بلې خوا په راتلونکې اونۍ کې د عرب لیگ غونډه چې په مصر کې جوړېږي هم باید خپلو دیني او ملي مسولیتونو ته متوجه او د خپلواک فلسطیني دولت په ډاگه اعلان او ځای په ځای یې د رسمیت پېژندنې سره سم هر ډول نظامي، سیاسي او مالي مرسته وکړي او دا ځرگنده خبره ده چې که عربي ټولنه یو دغه شان انقلابي گام پورته کړي حتماً به دغه کشاله د ټولې اسلامي نړۍ او خصوصاً د عربو په سور مخې اوسر لوړي د برياليتوب پړاو ته ورسېږي او همدا یوازینی چانس دی چې باید غنیمت یې وگڼي د عرب لیگ دا غونډه که څه هم ډېره مخکې باید رابلل شوې وای خو په هر صورت اوس هم که چېرې خپل دغه تاریخي مسولیت سرته ورسوي دا به لویه کارنامه وي دا چې عربي نړۍ نن سبا څومره شمېر، قوت او مالي طاقت لري له هیچا پټه نه ده . دوی ځانته پنځلس خپلواک هیوادونه وایي چې د نفتو او گازو په لرلو سره یې په حقیقت کې د گردې نړۍ ساه په لاس کې ده خو ډېر د افسوس ځای دی چې بیا هم د یهودو او نصاراو تابعداري او غلامي کوي په دوی کې د هیڅ شي کمی نشته خو له بده مرغه د غیرت او شجاعت د ډېرې نیمگړتیا سره مخامخ دي او د همدغې بې همتۍ له امله فلسطیني ولس د یهودو ظلم او تاتار ته یوازې پاتې دی او داد ی هره ورځ یې د لس گونو ځوانانو په وینولاسونه سره او زندانونه ډک دي د افغانستان اسلامي امارت چې له بده مرغه په خپله هم د اسلام دښمنانو له خوا د ډېرو ستونزو سره مخ دی، د یهودو دغه زور زیاتي په کلکه غندي او له گردې اسلامي او عربي ټولنې څخه په دې هکله دغو څو اقداماتو غوښتنه کوي.

عدل او انصاف د اسلام په رڼا کې

د عدلیې وزارت خپرونه
لیکونکی : ملا محمد ناصر مجاهد

٦

عـدل د دنیـا او آخـرت د نیکمرغۍ ضامن دی چې پدې اړوند د (اتاسی) د شپږم جلد په ٤٨ مخ کې د نوموړي کتاب مصنف یوه ډېره ارزښتناکه خبره کړېده.دي وايي : «عدل یو قوي بنیاد دی چې په هغه باندې د دنیـا او آخـرت مصلحتونه بنا دي او په همدې عدل باندې مالونه عزت او آبروگانې، وینې او شرمگاوې ساتل کېږي او په همدې عدل د ټولې دنیا او ښاورونو حالات منظم کېږي»

د مصنف له پورتني خبرې نه دا ځرگندېږي چې د دنیـا ټول دار اومدار د عدل او انصاف په اساس ولاړ دی الله «ج» چې کوم حدود مشروع گرځولي ټول یې د انسانانو د مصلحت لپاره وضع کړېدي مثلاً د قتل لپاره یې (قصاص) مشروع گرځولی تر څو د یو کس د قتل له امله قومونه په بدیو سره اخته نشي او د ایې هم د انسانانو په مصلحت پورې تړلې که چېرې د قتل په بدل کې عفوه وشي دا هم د دوی لپاره یو غوره کار بلل شوی او همدارنگه نور حدود.

نو ځکه په اوسني وخت کې د اسلامي امارت تر واکمنۍ لاندې سیمو کې حدود جاري دي کفري دولتونه او تش په نامه مسلمانان زمونږ پدې اسلامي عادله واکمنۍ خپه دي او وايي چې په افغانستان کې گواکي بشري حقوق تر پښو لاندې دي، حال دا چې دا هماغه عدل دی کوم چې الله «ج» مونږ ته د مصلحت په اساس وضع کړېدی. د دوی دا بهانه فقط له مسلمانانو سره د دوی کفري دښمني ده نه غواړي چې مسلمانان په پوره ارامه اوهوسا اسلامي فضا کې ژوند وکړي او د خپل رب عبادت وکړي او هغه څه تر سره کړي کوم چې الله «ج» او د هغه پیغمبر حضرت محمد «ص» پرې خوشحاله کېږي. ځینې نور خلک شته چې د خپلو معلوماتو د کمۍ له کبله او یا لدې کبله چې هغوی ځینې نور ادیان مطالعه کړي خو د اسلام د سپېڅلي دین د اساساتو او فروعونه بې خبره دي نو داسې فکر کوي چې گواکې اسلام هم د نورو ادیانو په شان یوازې او یوازې د مسلمانانو د روحي او معنوي اړخ دودې او پاللو لپاره پاملرنه کړې او د دنیایي چارو لپاره ورنه کار نشي اخیستل کېدای خو باید ووایو چې دغه راز خلک له یوې لویې اشتباه سره مخامخ دي او ددې لپاره چې ددې ډول اشتباهاتو نه خلاص شي نو ورته لازمه ده چې اسلامي منابعو ته مراجعه وکړي او پدې باره کې خپل ناقص معلومات پوره کاندې.

د اسلامي عدل تقاضا دا ده چې ټول مسلمانان دې د خورا ښه ژوند خاوندان وي د اسلام په نظر دنیا او آخرت نه یوازې دا چې یو د بل ضد نه دي بلکې یو د بل سره گډې اړیکې هم لري او وايي چې دنیـا د اخـروي ژوند کرونده ده پدې معنی چې کـه کوم مسلمان د ښه نیت په لرلو سره او د اسلامي احکامو او حدودو په چوکاټ کې دننه د خپل دنیوي ژوند د سمون او پر مختگ پخاطر هر څومره زیارونه وگالل او خپل ژوند یې د ذلت او خوارۍ له حالت څخه وقار، حیثیت او ښایي وضعې ته ورساوه په هماغه اندازه به یې اخروي ژوند هم ښه او د نعمتونو نه ډک وي له همدې کبله ده چې اسلام د هر هغه کار او عمل په مقابل کې چې په ښه نیت سر ته ورسېږي ، اخروي ثوابونه ورکوي او د عباداتو په لړ کې یې شمېري مثلاً که یو مسلمان د خپل ځان او ټولنې د نیکمرغۍ پخاطر د پوهنې زده کړه کوي، یا د خپلې پوهنې نه د ځان او نورو د احتیاجاتو د رفع کولو په منظور ښه استفاده کوي یا سړک، روغتون ، ښوونځی او مسجد جوړوي چې له هغو نه اجتماعي گټې اخستلی کېږي نو دا کار لدې سره سره چې دنیوي کار گڼل کېږي د آخرت لپاره هم د پام وړ توښه او ملگری دی. په اسلام کې د عقیدې او عمل تر منځ پوره ارتباطات قایم شوېدي چې یو د بل نه بېلوالی نشي منلای ، د مثال په توگه که اسلامي شعایر وڅېړو نو و به گورو بر سېره پردې چې د اخروي ژوندانه سعادت ورپورې تړلی دی دنیایي نیکمرغي مو هم تضمینوي مثلاً په لمانځه کې پوره مساوات او ورورولي ، په روژه نیولو کې استقامت او صبر، په زکات کې د ټولنې د اقتصادي افراط او تفریط مخنیوی او حج هم د مسلمانانو لپاره د یوه کلني بین المللي کنفرانس مثال لري چې په هغه کې باید مسلمانان یو د بل سره وپېژني او خپل منځي اختلافات او مشکلات سره حل او فصل کاندې.

هغه ضروري مسئلې چې خلک ورڅخه غافل دي :

١- د فقهي شریفې کتابونه حکم ـې چې د خپل‌جنس څخه مزدوري اخیستل ناروا دي‌لکه دا چې نانوای په مزدوري کې خپله پخه شوې ډوډۍ اخلي یا انگور کش په مزدوري کې خپل په لاس شکېدلي انگور اخلي یا د غنمو لوگر غنم اخلي.

٢- هر هغه چا ته چې د یو شي اخیستل حرام وي هغه چاته ورکول هم حرام دي لکه دا چې یو ځوک د سهار او ماښام نفقه لري سوال کول ورته حرام دي ورکول هم ورته حرام دي او یا دا چې یو ځوک چې غني وي زکات اخیستل ورته حرام دي او ورکول هم ورته حرام دي او یا یو ځوک پر گناه باندې مثلاً د سرود یا سینما له لارې فایده اخلي دا ورته حرام دي چې اکثره خلک د داسې ناروا اعمالو څخه غافل دي.

د افغانستان اسلامي امارت له نشه يي توکو سره عقیدوي ...

المللي ډگر کې د نوموړي فرمان د اهمیت او ارزښت په باب د مخدره موادو پر ضد د امارتي عالي کمیسیون د خپرونو له رئیس محترم شامحمود منگل سره مرکه کړې چې دا دی ستاسو د مطالعې لپاره یې خپروو.

پوښتنه : اوس چې په هیواد کې د کوکنارو کرل د عالیقدر امیر المومنین د ځانگړي فرمان له مخې یو مخ یې قانونه اعلان شوې تاسو یې عملاً د بندولو لپاره څه تدابیر نیولي ؟

ځواب : تر هر څه د مخه دا د یادونې وړ ده چې د افغانستان داسلامي امارت مشرتابه د اسلامي اصولو پر بنا ، د دیني وجایبو ، ملي او بین المللي مسوولیتونو او دندو او تاریخي ضرورتونو له مخې ویستله چې : کوکنارو د کښت د بشپړ بندیز او مخنیوي په خاطر ١٩ مه گڼه فرمان صادر کړي چې : هغه د عملي تطبیق لپاره د امارت د مقام د ځانگړو حکمونو پر بنسټ امارتي اړوند چارواکو او ارگانونو ته دنده سپارل شوې چې لازم تدابیري اقدامات تر سره کړي په دې ترڅ کې د هیواد جنوبي او ختیځو ولایاتونه ځانگړي هیأتونه موظف شول چې د سیمه ییزو امارتي چارواکو ، د علماو د شورا او د قوموتو او کلیو د مخورو او مشرانو په گډون یې پراخې غونډې جوړې کړي په دې توگه په دې وروستیو کې د هیواد ختیځ زون ته د کورنیو چارو وزارت د اداري معین محترم مولوي نور جلال جلالي په مشرۍ یو هیأت د مخدره موادو پر ضد د امارتي عالي کمیسیون د مرستیال او کار پوهانو په گډون کاري سفر درلود . او د ننگرهار ، لغمان او کنړ په ولایاتو کې یې د پراخو غونډو په ترڅ کې د عالیقدر امیر المومنین د ١٩ مې گڼې فرمان او د هغه تاریخي ضرورت ، د نشه يي توکو د زیانونو او د علماو د فتوا په اړوند توضیحات ورکړل. امارتي چارواکي او د غونډې گډون کوونکي یې د هغه د بشپړ عملي کولو په خاطر خپلو دندو او مکلفیتونو ته خبر کړل همدارنگه په ختیځ زون کې د چارو د ښه سمون په خاطر یو کمیسیون موظف او پخپل کار یې پیل کړی دی.

همدارنگه د هلمند ، کندهار او د هیواد په نورو سیمو کې ورته غونډې جوړې شوې او خلکو د کوکنارو د کرکیلې د مطلق بندیز په باب د عالیقدر امیر المومنین د فرمان په عملي کولو کې خپل بشپړ تیاری ځرگند کړی دی.

پوښتنه : آیا نړیواله ټولنه په د مخدره موادو پر ضد کمپاین کې له تاسې سره مرسته او همکاري وکړي ؟

ځواب : د افغانستان اسلامي امارت د نشه يي توکو سره عقیدوي اختلاف لري او تل په دې هڅه او هاند کې وو او دی چې په هیواد کې اقتصادي او ټولنیزو ستونزو سر بېره د نشه يي توکو هر اړخیز کنټرول او مخنیوی وکړي.

دا په نړیواله ټولنه پورې اړه لري چې د افغانستان د اسلامي امارت له دې ستر او تاریخي اقدام سره ځرنگه عکس العمل ښکاره کوي. خو د ملگرو ملتو د نشه يي توکو د مخنیوي او کنټرول د اداري UNDCP مسوولینو چې د تدریجي کمښت او کنټرول غوښتونکي وو د کندهار او ننگرهار په ولایتونو کې څو تجربوي پروژې د ١٩٩٧ م کال څخه د ریو کلونو لپاره د ٤ . ١٦ ملیونو ډالرو په پانگه په پام کې نیولې دي چې هغه هم نه دي بشپړ شوې او لازم مصرف یې ندی کړی او خپلې ژمنې یې سرته ندي رسولې. د نوموړي اداري چارواکو په دې وروستیو کې وېلي چې په افغانستان کې د UNDCP د پروژو په تیه دریدل د مالي ستونزو له کبله دي او د هغه علت او پړه د مرستندویو هیوادو (ادونرا) د مالي همکاریو بندېدل گڼي. دا تشې پلمې دي او دوی اوس هم لس ملیونه ډالره د انکشافي پروژو لپاره په واک کې لري.

له دې دا ځرگندېږي چې نړیواله ټولنه او بین المللي سازمانونه تل د نشه يي توکو د تولید د زیاتوالي له نامه څخه د افغانستان د اسلامي امارت پر خلاف د سیاسي فشار د وسیلې په توگه کار اخلي او موخه یې د افغانستان اسلامي امارت د نړیوالې ټولنې څخه جلا او لرې ساتل دي دوي تل د یې ځایه نیوکو او پلمو په لټه کې دي دوی نه غواړي چې د افغانستان اسلامي امارت سره له کوم قید او شرط نه پرته لازمې همکاري وکړي.

د افغانستان اسلامي امارت له نړیوالې ټولنې او بین المللي سازمانونو څخه دا غوښتنه لري چې که د نشه يي توکو د کنټرول او مخنیوي په اړوند د هیواد د کروند گرو سره د هغوی د اقتصادي ستونزو په هکله مالي او تخنیکي مرسته نه کوي د ناوړه تبلیغاتو او بې بنسټه تورونو او پلمو پر ځای خو دې واقعیتونه بیان کړي او زمونږ پر هیواد دالو خو دې اقتصادي بندیزونه لرې کړي .

پوښتنه : که نړیوال بیا هم څه مرسته ونه کړي آیا دا پروگرام به بریالی شي ؟

ځواب : تاسو ته ځرگنده ده چې نشه يي توکي د بشري ټولنې د فساد ، بدبختۍ، اقتصادي ټولنیزو او روغتیایي ستونزو زیږنده او لوی دښمن دی یو هیواد په ځانگړې توگه نه هغو سره مبارزه نه شي ص ٤

د شعر او ادب نړۍ

حذر

وحید مژده

کشای دیده که دشمن محیل و مکار است
خط نگاه مگیر از نشانه گاه تفنگ
زمانه گرچه بر انداخت نسل شاهانرا
امید سلطه برین قوم او بگور برد
قدم به راه خیانت به رزم این مرده
حذر ز بیعت پیري که در مقام عمل
سواد شب زره خواب قصد شبخون داشت
کسیکه موجه، خونش ره تجاوز بست

ستمگر و بخون تشنه است و غدار است
کنون که لمحه حاصل ز جهد و پیکار است
به کله ها هوس تاج و فکر دربار است
که از تبار خیانت سرشت و سردار است
مدافع حق ملت به قول و اظهار است
ز بهر کهنه بت از کعبه دست بردار است
ولي دو چشم مجاهد هنوز بیدار است
کسیکه عزم وي این رزم را علمدار است

کسیکه سیاه نور شکستند قلب ظلمت را
طلوع مهر ز بام افق پدیدار است

غزل

حنیفه زاهد شاجویی

هغه مستي ها زمزمه یې څه کړه
هغه مطرب هغه نغمه یې څه کړه
له دي سرو څخه خمار وتلی
هغه ساقي هغه پیاله یې څه کړه
و زمو ... دلو زړو ته څه ووایم
هغه خروش هغه لمبه یې څه کړه
ولي هر خوا ته نې سجدي وینمه
د ابراهیم لویه کعبه یې څه کړه
دلته تور شوي د نیستو منځونه
هغه سپین مخي اراده یې څه کړه
دغه تورتم کي ټول جهان ړوند شوی
هغه د ښکلیو ننداره یې څه کړه
آسمانه! ستا له ډېرو ډکه خیمه
هغه ځلاها پلوشه یې څه کړه
د اولي ټول تر مرګ پخوا مړه شوي
هاد ژوندیو ولوله یې څه کړه
دغه کاروان پر کړو لاره د رومي
هغه پیمان هغه وعده یې څه کړه
دلته خو زور د پیغورونو راځي
هغه ویاړمنه تاریخچه یې څه کړه
د زړه په مینه مو غلیمه وارول
هاد الفت خوږه کیسه یې څه کړه
«زاهده» کړي د خزان راغلی
زموږ د سرو ګلو باغچه یې څه کړه

مور ته

الحاج گوهري

گراني موري تا په غېږ کي لویولم　　　که ټوخي با سر خوري به په ما راغلي
په زانګو کي به دي ورو ورو زنګولم　　　د جهان په زیارتو دي ګرځولم
درنه زار درنه قربان شم ګراني موري
زه دي هر درد ته درمان شم ګراني موري
ما به خوب که ته به وېښه تر صبا وي　　　وسوسي به دي وي کوته په ګوګل کي
تو له شپه به راته ناسته په ژړا وي　　　لوي ښتن ته به مدام لاس په دعا وي
شپه او ورځ به مي په غم کي وي ستومانه
هر زګېروي ته به مي بره وي پریشانه
چي به روغ شوم په ډوډي به مسرور وم　　　لکه شمعه سوځېدي به مي په غم کي
وېده شوي به په غولي بي بستر وم　　　ستا د زړه له اندېښنو نه څه خبر وم
وي خپګان ته به مي ډېره بي قراره
راته ناسته به وي وېښه تر سهاره
ماشوم مانو د کوځي سره مي جنګ که　　　زما په سر به دي هر چا سره جګړه وه
ما به ځان با به مي بل په وینو رنګ که　　　یو ولس به مي دښمن درته پو درنګ که
زه ماشوم وم له انجامه څه خبر وم
پټ و تلي به له کوره پخپل سر وم
اوس په ماده چي په مینه دي خدمت کړم　　　موري ستا تر قدمو لاندي جنت دي
لاس دي راکړه چي بي شکل په صداقت کړم　　　«ګوهري» ته بنا یې تل چي دي عزت کړم
لوړ دي برم تر آسمان شه ګراني موري
خپل پردي ستا په فرمان شه ګراني موري

کیست افغان ؟

حنیف بلخي

کیست افغان رزمردي در صف میدان عصر
انکه گوید کیست جز من یکه تاز کارزار
نا خداي با خداي کشتي آزاد گي
مي نترسد از نهیب لشکر سرخ تزار
انچنان برخاسته از کوه او سیل جهاد
از حمیت آتش بالا شده از خاك او
کي گذارد تا نسوزد هستي این بي خدا
روس یعني عقرب زهر آفرین کینه توز
طرز تاریخ آفرینی هاي ما بشنیده بود

مـ ... و که نمودح جولان عصر
انکه گوید کیست جز من رستم دوران عصر
در شکنج لجه هاي مدهش طوفان عصر
گرچه باشد در کف او هر قدر سامان عصر
سرنگون سازد باخر کاخ دژخیمان عصر
سوزد خرمن هستي نمرودان عصر
گرچه کرده خاك پاك او چو آتشدان عصر
که بیرویش سبك گردیده در میزان عصر
خر گیرو دار مردم افغان عصر

نفرتونه وژنو

فرید

راځي راځي چي تورتمونه وژنو
توري تېاري او ماتمونه وژنو
دا تربګني او دښمني ختمي کړو
کیلي په کیلي تفرقونه وژنو
چي خوشحالي مو د زړه کوړته راشي
پو یل ته وخاندو غمونه وژنو
تو ... د هغو د غرور کړو تر منځ
د ... بالتونه وژنو
«فرید» ناري کړي ... له غوږي
وار ... جګړونه وژنو

د امت چوپتیا

ملا اسد الله «حنیفي»

د ... کړدي او دا جبرونه مي ځیګر سوځوي
... د مظلوم مي ده په دم د زړګي سر سوځوي
... تیري دلته تیري په مسلمانو کیږي
... د مومن مي لکه سپانده په مجمر سوځوي
د ... غلونه دا بریدونه به تر کومه زغمو
چوپه چوپتیا مي د امت د پیغمبر سوځوي
اخر تیري او تجاوز ته به تر څو زړېږو
د ... وحشت مي په والله شام او سحر سوځوي
... په امت باندي کفار خپلي وسلي ازموبي
د شرق او غرب دغه عمل مي پټ مضمر سوځوي
... به فریاد وکړم د چا د لاسه کوکي وکړم
د ... خواکونه مي په زړه کي جور پر هر سوځوي
... د ... مسلمانو منځ کي
د ... لکه شمعه پاي تر سر سوځوي
... ته ځیل خانه شو دغه ویر پیښور
... اوار مي د پښتون په اشتغر سوځوي

غزل

ناګار

مه کړه ګومان چي بس قلم چلوم
د تنګ غازي یم توره هم چلوم
د خلافت ... امانت را ... ره
... په شا د درانه غم چلوم
د تکیرونو بدرګه مي هر یک
د ... کړیني په تورتم چلوم
ما له خپل رب سره وعده کړي ده
خپل رسالت به په قسم چلوم
اذان ته وخت ... په بام د نړۍ
د انقلاب زړو چم په چم چلوم
زما تویکه ستا دا سري ګولي به
په سر ... روسي تر ورستي دم چلوم
جهاد - جهاد دي آزادي او امن
زې ما وړا له کیف او کم چلوم
... د فتحي د ګولي په ژبه
کلمه د زړ کلمه بې بم چلوم
پټ د کولو پارولي ... به
د غضب غشي په ارم چلوم
ناګاره! نه ده مرثیه خنو ګوره
زېږي د محبوب د ماتم چلوم

داصحابو دژوند پلوشی

۲۸

مؤلف: دکتور عبدالرحمن رأفت باشا - مترجم: بشار

عبدالله بن مسعود یوانحی قاری، عالم او زاهد نه و بلکی قوی، عاقل، مجاهد او د سختی قهرمان او زړور هم و او دی د ځمکی پر مخ لومړنی مسلمان دی چی د رسول الله «ص» څخه یی وروسته قرآن په جهر سره ویلی دی.

یوه ورځ په مکه کی د رسول الله «ص» ملګری چی لږ او کمزوری و سره راټول شول او بیایی وویل: په الله سوګند، قریشو دغه قرآن په جهر سره ندی اوریدلی، نو څوک به وی چی دغه قرآن هغوی ته واوروی؟ عبدالله بن مسعود وویل: زه به یی هغوی ته واوروم.

د هغه ملګرو وویل: مونږ ستا په باب له هغو څخه ویره کوو، مونږ داسی سړی غواړو چی هغه خپلوان ولری، او هغه د هغو له شر څخه وساتلی شی.

عبدالله بن مسعود وویل: دغه کار ماته پریږدی، او الله «ج» به هغوی له ما څخه منع او بچ کړی.

بیا هغه په سبا ورځ مسجد ته لاړ او د څاښت په وخت د ابراهیم مقام ته لاړ او دا په داسی حال کی چی قریش د کعبی په شا او خوا کی ناست و نو هغه، مقام ته نږدی ودرید، او په لوړ آواز د قرآن د آیتونو په لوستلو شو: الرحمٰن علم ...

عبدالله بن مسعود د قرآنی آیتونو په لوستلو کی و چی د قریشو ورته پام شو او په خپلو منځو کی یی سره وویل:

«ابن ام عبد څه وایی؟ هغه له هغه څه څخه لولی چی هغه محمد راوړی دی»

بیا د قریشو ناست کسان پورته شول او د هغه پر مخ یی ګزارونه پیل کړل، او هغه هماغسی پخپلو لوستلو بوخت و نو څه چی د الله «ج» اراده وه هغه ته یی تکلیفونه ورسول.

بیا عبدالله بن مسعود خپلو ملګرو ته په داسی حال کی چی وینی ور څخه روانی وی راستون شو.

ملګرو ورته وویل: مونږ ستا په باب د همدی ویره کوله.

هغه وویل: په الله «ج» سوګند، اوس زما په نظر د هغه په دښمنانو کی له دوی څخه بل څوک ډیر سپک نشته، که غواړی د نن ورځی په شان به سبا هم د هغوی سره مخامخ شم.

ملګرو وویل: بس دی، تا هغوی ته هغه څه چی نه یی خوښوی واورول. عبدالله بن مسعود د عثمان «رض» د خلافت تر وخته ژوندي و کوم وخت چی د مړینی د ناروغتیا په بستر کی ناروغ پریوت نو د هغه د پوښتنی لپاره عثمان «رض» راغی، او ورته یی داسی وویل: له څه شکایت لری؟

ویی ویل: له خپلو ګناهونو څخه.

بیایی پوښتنه وکړه: د څه شی اشتها لری؟

ویی ویل: د الله «ج» د رحمت.

بیایی ورته وویل: هغه برخه چی تا له څو کلونو راهیسی اخیستی نده، ایا تاته د هغی د درکولو امر ونکړم؟

ویی ویل: هغه ته څه حاجت نلرم.

بیایی ورته وویل: هغه مال به ستا د لوڼو لپاره شی.

ویی ویل: ایا ته زما د لوڼو په باب د نیستی ویره کوی؟

ما هغوی ته لارښوونه کړی ده چی هره شپه د - الواقعه- سوره ولولی، او ماله رسول الله «ص» څخه اوریدلی دی چی هغه به ویل: چا چی هره شپه الواقعه ولوستله نو هغه ته به هیڅکله نیستی ونه رسیږی.

کله چی شپه شوه، عبدالله بن مسعود د الله «ج» حضور ته ورغی او ژبه یی د الله په ذکر او آیتونو لمده وه.

د عبدالله بن مسعود په باب د ډیرو معلوماتو لپاره دغه کتابونه ووینی:

۱- الاصابة (ط السعادة) ۲- الاستیعاب (ط حیدر آباد)
۳- اسد الغابة ٤- تذکره الحفاظ ٥- البدایة والنهایة
٦- طبقات الشعرانی ۷- شذرات الذهب
۸- تاریخ الاسلام للذهبی
۹- سیر اعلام النبلاء

باقي لري

نامهء وارده

مسوول و کارکنان هفته نامه شريعت !

نخست از همه صحتمندي تانرا از بارگاه خداوند متعال ميخواهيم اميدواريم که نامه، ما را بدون کم و کاست به نشر برسانيد .

در اين اواخر يك باب داش خشت در ساحه بي بي مهرو اعمار گرديده و اکثراً در داش متذکره تاير هاي کهنه و پلاستيك ها آتش ميگردد که سبب مشکلات فراوان براي اهالي منطقه گرديده است و از سوي ديگر داش مذکور در کنار ميدان هوايي بين المللي کابل واقع است که اکثراً مسافرين خارجي و اراکين دولتي از اين ساحه عبور مينمايند اميد مسوولين مربوط در زمينه توجه نموده و داش متذکره را به ساحه معين (يك ساحه بيرون از شهر) انتقال گردد.

والسلام

زلمي «علمي»، شيرالله «ميدان وال» ، حکمت الله «اورياخيل» و رومل «ابراهيم خيل» باشنده گان قلعه وکيل بي بي مهرو

برادران نهايت عزيز و گرامي ! اميدوار هستيم سلام هاي متقابل ما را نيز قبول فرماييد اينك نامه ارسالي شما را بدون کم و کاست به دست نشر سپرديم اميدواريم مسؤلين محترم در زمينه اقدام لازم نمايند.

اداره

شفاخانه حوزوي ولايت هرات با ...

دوکتورس و شش نفر از خواهران نرس صورت ميگيرد . در اين بخش امراض داخله، واقعات و امراض هضمي، خون، قلبي، شش، کليه ها ، غدوات داخلي که پس از تکميل معاينات لابراتواري در بخش کاملاً جدا از ذکور معالجه و تداوي ميشوند که لازمست از مساعدت هاي سازمان صحي جهان در تدوير يك سيمينار اختصاصي در اين اواخر ابراز قدرداني نمايم.

محترم دوکتور فايض افزود : از لحاظ تجهيزات و وسايل طبي، بخش مادارای دستگاه الکتروکاردوگرافي ، دستگاه تکشن برقي ، دستگاه الکترو ديفريلاتور، دستگاه آکسيجن رساني، بالون هاي اضافي آکسيجن و بکغراده ويلچر و ترازو ميباشد که بعضاً در اثر توجه محترم رئيس صحت عامه شهر هرات ممکن و ميسر گرديده است .

شايان ذکر است که از آوان بستر شدن هر خواهر مريض الي رخصتي، ادويه مورد نياز آنها از دواخانه هاي داخل شفاخانه بطور رايگان مساعدت ميگردد و ساير وسايل خدماتي از قبيل :بستر، دوشك، روي جايي ، آب و غذاي صحي و نوکريوالان ٢٤ ساعته، از مريضان داخل بستر، مواظبت بعمل مي آورند.

بايد تذکر داد که امراض ديگري از قبيل توبرکلوز ، ملاريا و هيپاتيت که در هرات موجود است و همچنان امراض خواهران مانند جراحي، چشم، گوش ، گلو و ساير امراض که همه با مشوره باساير سرويس ها حل و فصل ميگردند.

اميدوارم پس از بيست سال جنگ و صدمات سنگين بر پيکر اقتصاد و تاسيسات فرهنگي و خدماتي و مراکز صحي کشور، صلح و آرامش دايمي تامين گردد و اميدوارم با توجهات عميق و دلسوزانه مقامات محترم ذيصلاح همانطوريکه تحصيل خواهران در بخش تعليمات متوسط طبي فراهم گرديد، فاکولته طب بخش خواهران نيز با رعايت کامل حجاب و موازين شرعي انشا ، الله بکار علمي آغاز خواهد کرد.

عطا محمد فريادي

دننګرهار د بريښنا بند ...

د اداری په مالی مرسته د ننګرهار ولايت د بريښنا د بند د دروازو د ترميم کار څلور مباشتی مخکی پيل او د يو مليارد و شپږ پنځوس مليونو افغانيو په لګښت پای ته ورسيد.

په يوه ثانيه کی د شلو مکعب مترو اوبو د ضايع کيدو په مخنيوی سره د يو زرو پنځه سوه کيلو واټه بريښنا په لاسته راوړلو سربيره د ننګرهار په کانال کی د اته سوه هکتاره ځمکی د خړوبولو زمينه هم برابره شوی ده .

د ننګرهار د بريښنا بند دری توربينونه لری چی ټول د يوولسو زرو او پنځه سوه کيلو واټو بريښنا د توليد ظرفيت لری.

په هغی غونډه کی چی د دغو دروازو د ترميمولو د کار د پای او د بيا فعاليت له امله جوړه شوی وه د هغه ولايت د ملکی او نظامی امارتی ادارو په مسولينو سر بيره د ختيځ زون تنظيمه مرستيال او د ننګرهار ولايت مرستيال محترم مولوی صدراعظم هم برخه درلوده د ختيځ زون محترم تنظيمه مرستيال د بريښنا کوټ له بيلا بيلو برخو څخه د ليدنی په ترڅ کی د هغی اداری د پرسونل قدرداني وکړه او د دغه بند دروازی بی پرانستلی.

د تلو د واکسين ...

د جوماتو امامان او کليوال مشران د دغه بدمرغه او موذی مرض د نوغی ويستلو لپاره ددی ملی کمپاين په بريالی کولو کی مرسته او ملګرتيا وکړی.

له پنځه کلنی څخه د کم عمر ماشومانو مهندي او پلرونه هم بايد خپلو مسؤليتونو ته متوجه او له موظفو کسانو سره په دی هکله مرسته وکړی تر څو دغه ناوړه ناروغی زمونږ له ګران هيواد څخه په بشپړ ډول ختمه او راتلونکی نسلونه مو د ښی روغتيا خاوندان وی.

د نړيوال پست ...

غونډه پداسی حال کی چی د هغه وزارت اداری معين محترم الله داد طبيب او تخنيکی معين محترم ملا عزيز الله اخند د ملکی هوايی چلند او توريزم د وزارت معين محترم ملا هدايت الله اخند او د مخابراتو وزارت هيأت او د پستی برخی کارکوونکی حاضر و د کلام الله مجيد دځو مبارکو آيتونو په لوستلو سره پيل شوه .

وروسته د مخابراتو وزارت د پست رئيس محترم مولوی الله داد بلخی په هيواد کی د پستی فعاليتونو تاريخچه بيان کړه او په هيواد کی بی د پستی فعاليتونو په باب رڼا واچوله او هغه ستونزی بی چی د پستی

دشهزاده سراي د سوداګرو او دوکاندارانو په مشورتي

چی تاسو بی لوستلو ته رابولو :

دا غونډه د اړوندو اقتصادی ستونزو په هکله د شهزاده سرای د رئيس حاجی امين جان په مشری جوړه شوی وه چی پکی يو شمير نور سوداګرو لکه حاجی شير عالم، حاجی حسن زی منګل، حاجی عصمت الله، حاجی امان الله، حاجی نصير احمد ، حاجی حفيظ، حاجی رفيع، احمد شاه خان، حاجی شير حسن، حاجی شير کندهاری او يو شمير نورو دوکاندارانو هم برخه اخيستی وه .

په پيل کی حاجی امين جان يادونه وکړه چی له بده مرغه زمونږ د ملی اقتصاد د نړولو لپاره روسانو او د هغوی داخلی نوکرانو سختی هلی ځلی پيل کړی تيره ورځ يو زيات شمير نوی افغانی نوټونه چی په مسکو کی چاپيږی کابل ته رارسول شوی او همدلته په خارجی اسعارو تبادله کيږی دی کار زمونږ د هيواد ملی اقتصاد ته سخته ضربه ورکړی او دا دی ورځ په ورځ د افغانيو ارزښت را ټيټوی نو ځرنګه چی دا يوه لويه اقتصادی ستونزه ده ښايی د اسلامی امارت چارواکی بی د مخنيوی لپاره ښه اغيزمن ګامونه واخلی د غونډی برخه والو په دی خبره ټينګار وکړ چی بايد له بهر څخه د افغانی پانګوالو د رابللو لپاره ګړندی هڅی وشی، پاکستان، ايران او متحده اماراتو ته بيلا بيل استازی ولېږل شی تر څو هغوی د هيواد له ډاډ من امنيت نه په تفصيل سره خبر او کار کولو ته تيار شی.

په دی لړ کی يوه مهمه خبره دا هم ده چی په هيواد کی بانکی نظام ته وده ورکړل شی او په ټولو ولاياتو کی بی ځانګی فعالی شی دا کار به د پانګوالو ډيری ستونزی حل کړی . د امارتی اقتصادی لوی کميسيون په هکله دوی وويل چی دا خو ډير ګټور اقدام دی خو په کار ده چی د لا پرمختګ او اغيزمنتوب لپاره بی د هيواد د سوداګرو د استاځو او ځينو اقتصادی ماهرينو د سلا مشورو څخه هم ګټه واخيستل شی همدارنګه د پانګوالو د راجلبولو لپاره د کابل ښار ښکلاو سمسورتيا هم ډيره اغيزه لری، ځکه زياتره وخت ځينی پانګوال خپل استازی راليږی نو که چيری په کابل کی پراختيايی کارونه ووينی خامخا اغيزمن کيږی نو په دی هکله بايد ښاروالی هم خپلی هلی ځلی ونه سپموی د شهزاده سرای د ستونزو په هکله دوی وويل چی که څه هم د خدای فضل دی امنيت ډير ښه دی خو ځرنګه چی دا سرای يو نړی وال نوم او شهرت لری او دښمنان بی هم د بدنامولو کلکی هڅی کوی نو د اسلامی امارت مسؤلينو ته په کار ده چی ددی سرای د امنيت لپاره لا ډيره پاملرنه وکړی او بله خبره دا ده چی زياتره وخت دلته بهرنی ميلمانه هم ډير راځی نو د امر بالمعروف موظفينو ته هم په کار ده چی د خپلو فعاليتونو په وخت کی معقوله او حکيمانه تګلاره خپله او د ميلمنو په نظر کی د هيواد بدرنګ انځورولو نه ځان وساتی.

په تاجکستان کي ...

ليکونکی ليکی : د تاجکستان د اسلامی ګوند د خپرونی ،نجات د ليکنی له مخی دا دويمه اوونی ده چی د دوشنبی ښار د جوماتونو د اذان غږ په لوډسپيکر کی نه خپريږی.

د همدی ليکنی له مخی د جوماتونو مسولينو ته سپارښتنه شويده چی په جومات کی د ننه اذان ووايی او د اذان غږ بايد په لوډسپيکر کی خپور نه شی.

د اسلامی غورځنګ ګوند د رئيس لومړی مرستيال او د تاجکستان په پارلمان کی د دغه ګوند استازی محمد شريف همت زاده دغه کار په يوډول نه يوډول د دغه هيواد د مسلمانانو د حقوق او آزادی تر پښو لاندی کول بولی.

ده وويل په ټوله نړی ان په هغو هيوادونو کی چی د مسلمانانو شمير لږ دی په اروپا امريکا او ان په نورو هيوادونو کی د پنځه ګونو لمونځونو د آذان لپاره له لوډسپيکرونو څخه استفاده کوی. خو په داسی يوه هيواد کی چی زياته برخه بی مسلمانان او د برابرو حقوقو او خاوندان دی دغه کار د مسلمانانو له حقوقو سره سمون نه لری او د خواشينی وړ دی. د دوشنبی د اړوندو ادارو لخوا د تاجکستان د پايتخت په جوماتونو کی د لوډسپيکر له لاری د آذان د نه خپريدلو پريکړه په داسی حال کی، کيږی چی د اسلامی غورځنګ د ګوند فعاليت مخ په زياتيدو دی.

خدمتونو په بهير کی د ملګرو ملتو د سازمان د امنيت شورا د لګول شويو بنديزونو له امله را منځته شوی يادی کړی.

د مخابراتو وزارت د پست محترم رئيس وويل: زمونږ په هيواد کی پستی خدمتونه له ډيرو کلونو را پديخوا موجود و او په بيلا بيلو وسيلو بی فعاليت کړيدی او د خلکو د ستونزو د لری کولو او د پستی اړيکو په تامينولو کی بی د قدر وړ خدمتونه تر سره کړيدی.

ده زياته کړه: د بشريت په تاريخ کی لومړنی پست د سليمان عليه السلام په امر د هد هد په وسيله د سبا په ښار کی د ملکی بلقيس له پاره استول شويدی چی د الله « ج » په نامه پيل شوی و .

يوه اندازه جعلي درمل ...

کشف او لاس ته راغلی.

د کابل ولايت د استخباراتو د رياست د موظفينو د هڅو او هاند له امله په دی وروستيو کی اوه ويشت قلمه بی کيفيته او تقلبی درمل د خيرخانی مينی په قلعه نجارا کی د علی درملتون نه کشف او لاس ته راغلل.

يو مسوول خبر ځای وويل ددی کار عاملين هم نيول شوی او موضوع تر دقيقی څيړنی لاندی ده .

بنګله ديش د ...

خپلو وحشيانه عملونو ته زياتوالی ورکړيدی.

د بنګله ديش د بهرنيو چارو وزارت د يوی وينا په ترڅ کی د يوه خپلواک فلسطينی دولت له جوړيدو څخه چی پايتخت به بی بيت المقدس وی په کلکه ملاتړ کړی.

د ګډون بيه له هيواد نه بهر		
ملك	شپږ مياشتني	کلني
پاکستان	RS200	RS400
دخليج هيوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امريکا	US$75	US$150

د مخدره موادو پر ضد د امارتي عالي کميسيون ...

کولای بلکی د نړيوالی مبارزه غواړی.

د عاليقدر امير المومنين ۱۹ مه ګټه فرمان د بشری ټولنی د ژغورنی او خير ښيګنی لپاره صادر شوی، نو ځکه د خلکو له بشپړ ملاتړ څخه برخوردار دی که نړيوالی ټولنی په دی اړوند مرستی هم ونه کړی د افغانستان اسلامی امارت خپله دينی وجيبه، ملی او بين المللی دنده کڼی او په دی اړوند مشخصه کړنلاره او پاليسی لری او د ټاکل شوی او علماً تنظيم شوی ستراتيژی په پام کی نيولو سره عمل کوی بيا هم نړيواله مرسته کولای شی په دی لار کی اغيزمن رول ولوبوی او دی پروسی ته چټکتيا ورويښی.

پوښتنه : ددی پروګرام د بريالیتوب لپاره له زور او تهديد نه پرته له شرعی او اخلاقی پلوه هم ډير کارضرور دی تاسو د خلکو د ذهنی پوهی، اخلاقی روزنی له شرعی پلوه د مخدراتو د مخنيوی لپاره څه وړ ګامونه اخيستی.

ځواب : د يادونی وړ ده چی د افغانستان د اسلامی امارت کړنلاره او پاليسی د مخدره موادو په اړوند د اسلام د سپيڅلی دين، د الهی احکامو ، د محمدی «ص» د شرعی اصولو نافذه قوانينو او بين المللی کنوانسيونونو مطابق ده چی دا ټول د انسانانو او بشری ټولنی په ګټه دی.

د نشه يی توکو په هکله د خلکو د ذهنونو د روښانه کولو لپاره په مرکز او ولاياتو کی د عاليقدر امير المومنين د ۲۹ مي ګټی فرمان او د نشه يی توکو د زيانونو په اړوند د علما و د شورا د فتوا په هکله د مخدره موادو پر ضد د امارتی عالی کميسيون د رهبری ،استازو، کار پوهانو، د علماو د شورا ګانو، د رئيسانو، د قوم او کليو د مشرانو، ملا امامانو او امارتی اړوندو چارواکو لخوا د خلکو په پراخو غونډو کی لازم توضيحات او تشريحات ورکړل شوی او هم د هيواد د ټولنيزو اطلاعاتی وسايلو له لاری ځانګړی پروګرامونه او خپرونی خپری شوی چی د خلکو د ملاتړ سبب ګرځيدلی دی او دا لړی دوام لری.

پوښتنه : که ربښتيا هم د کوکنارو کرل عملاً په هيواد کی بند شی څه فکر کوی چی په سياسی ډګر کی به د اسلامی امارت څومره ستونزی هواری شی ؟

ځواب : نړيواله ټولنه او بين المللی سازمانونه کوم چی د افغانستان اسلامی امارت سره په تضاد کی دی خپله يوه د سياسی فشار وسيله به چی هغه د نشه يی توکو زيات توليد وو او له دی نامه نه بی ناوړه استفاده کوله له لاسه ورکړی دوی به د نورو پلمو او وسيلو د لټولو په هڅه کی لالهانده او سرګردانه شی همدارنګه به په نړيوال ډګر کی د افغانستان د اسلامی امارت د وقار او حيثيت لپاره ګټور واقع شی او بل به له ګاونډيو هيوادو سره د سرحدی پولو په اوږدو کی د نشه يی توکو د قاچاق له امله ستونزو ته د پای ټکی کيښودل شی چی په نتيجه کی د نيکو او دوستانه روابطو د ټينګښت او د ډيپلوماتيکو او تجارتی اړيکو د پراختيا سبب ګرځيدای شی.

مرکه کوونکی : عبدالبصير «شاکر»

محترم رئيس ستره ...

محترم قاضي القضات بعد از غور و بررسي دقيق و همه جانبه امور ديوان هاي رياست محاکم و محکمه شهري آن ولايت به قضات و مسوولين مربوط هدايات لازم ارشاد فرمودند .

اجتماع سران کشور ...

راجع به آماده گي ها جهت تدوير اين جلسه عاجل سران کشور هاي عربي مذاکراتي انجام داده است.

قاهره انتظار دارد تا بتاريخ بيست و يك و بيست و دو اکتوبر از چنين يك جلسه ميزباني کند گفته ميشود که وزير خارجه عراق نيز در اين جلسه شرکت خواهد ورزيد.

پوهنځي انجنيري ...

آگاهي علمي محصلين و نسل جوان کشور به تفصيل صحبت نموده و از تسهيلات و سهولت هاي که از سوي ا.ا.ا جهت آموزش و تعليم و تربيه نسل جوان کشور فراهم گرديده به قدرداني ياد نموده ايجاد پوهنځي انجنيري را در چوکات پوهنتون کندهار با اهميت خواند همچنان در اين مراسم محترم انجنير نظر محمد کاريار استاد پوهنځي انجنيري پوهنتون کندهار ضمن صحبتي تاسيس پوهنځي انجنيري را در آن پوهنتون يك گام ارزنده خوانده و از موسسات خارجي خواستار گرديد تا در قسمت غنامندي و تجهيز وسايل ضروري پوهنځي انجنيري پوهنتون کندهار همکاري نمايند.

در پايان مراسم اشتراك کننده گان از پوهنځي انجنيري و ورکشاپ هاي مدرسه ميخانيکي آن ولايت بازديد نمودند.

د ټولنيزو چارو ...

اهميت او ارزښت او په هغه کی د ګډون کوونکو د مسووليتونو په باب خبری وکړی.

دغه کورس شل ورځی دوام کوی.

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Emirate of Afghanistan
Chief Editor: Abdurrahim "Saqeb"
Editor: Ghulam M. Farooq
Printed by: Emirate's Printing Press